
هفته واره رساله: 363
WEEKLY BOOKLET: 363

دامیرِاهلِسُنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د کتاب "فیضانِ نماز" نه یو قِسط په نوم

# نمونځ
## نه‌توجُّه‌لرې کوونکي څیزونه

PASHTO




آیا د لباس اثر په زړه کیږي؟ 02
مرغۍ ساتل څنګه دي؟ 05
په روژې کښې د بَرَکت مضبوطه ذریعه 08
بنده نه رګعتونه ولې هیریږي 09



شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# نمونځ نه توجُّه لرې كوونكي څيزونه

دا مضمون د ''فيضانِ نماز'' صفحه 298 تا 309 نه اخستے شوے دے۔

دعائے عطار: يا الله پاكه! څوک چې دا رِساله ''نمونځ نه توجُّه لرې كوونكي څيزونه'' ولولي يا يې واورِي، هغهٔ ته ښه پهٔ توجُّه سره د نمونځ کولو سعادت نصيب کړې او سره د مور او پلار يې وبخښې.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نمانځهٔ نه پس حَمد و ثَناء او دُرُود شريف لوستونكي ته وفرمائيل: ''دُعا اوغواړه قبوله به كړے شي، سوال وكړه، دربه كړے شي.''
(نسائی ص۲۲۰، حدیث ۱۲۸۱)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ډيزائن والا څادر كښې نمونځ

''بُخاري شريف'' كښې دي: د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه رِوايت دے چې مكى مَدَنى مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خَمِيصَه (يعني نقش و نګار والا) څادر كښې نمونځ وكړو، د هغې په نقش و نِګار باندې ئې يو نظر واچولو، چې كله فارِغ شولو نو وئې فرمائيل: زما دا څادر ابوجَهْم له يوسئ او د ابوجَهْم نه د اَنْبِجَانِيَّه څادر راوړئ ځکه چې دې (يعني ډيزائن والا) څادر زه اوس د نمانځهٔ نه منع كړم.'' په

يو روايت کښې دا هُم دي چې زه په نمانځه کښې د دې نقش و نګار (يعني ډيزائن) ته په کتلو شوم نو زه ويره لرم چې دا [به] زما نمونځ خراب کړي." (بُخاری ج۱ ص ۱۴۹ حدیث ۳۷۳)

## د لِباس اثر په زړه کيږي

حَکِيمُ الأُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حديثِ پاک نه لاندې ليکي: **خَمِيصَه** [د تارونو] د بُوټو والا (يعني ډيزائن والا) څادر ته وائی، دا د وړئ تور څادر وو کوم چې **ابوجَهُم** رَضِیَاللهُعَنْهُ هِدِيَّةً (يعني د تُحفې په طور د حُضُور صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم) په خِدمتِ اَقدَس کښې پيش کړے وو، سرکار عَلَيْهِالصَّلٰوةُوَالسَّلَام هغه په سر کړے وو او **نمونځ** ئې کولو. **اَنْبِجَانِيَّه** د شام (يعني سُورِيا) د يوې علاقے نوم دے چې هلته ساده کپړے تياريږي د هُم هغې طرف ته د دې نِسبَت دے. څنګه چې دلته د بهاګل، بوريا او د ډهاکې مَلمَل يا د لائل پور لَټّهه مشهوره ده. ولې چې د څادر په واپس کولو به د **ابوجَهُم** رَضِیَاللهُعَنْهُ زړه ته خفګان رسيدلے څکه ئې د هغوئې د زړه ساتلو د پاره د هغې په بدل کښې د هغوئې نه بل څادر طلب کړلو. صُوفِيا فرمائي چې **د لِباس اثر په زړه پريوځي، خُصُوصاً صفا او روښانه زړونه زر اثر اخلي**، څنګه چې په سپينه کپړه باندې که تور داغ معمولي هُم وي نو د لرې نه معلوميږي. د دې نه معلومه شوه چې د جُمات مِحراب ساده کيدل بهتر وي چې د نمونځ کوونکي تَوجُّه نه خرابيږي. بعضې صوفيا د نقش و نګار والا مُصلّے په ځائے په ساده پَزَکي [يعني چټائي] باندې نمونځ کول خوښوي، د هغوئې ماخَذ (يعني بُنياد) هُم داحديث دے. ياد ساتئ چې دا هر څه د خپل اُمَّت د تعليم د پاره دي، د قَلبِ پاک مُصطَفیٰ (صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم) وارِدات (يعني مبارک زړه باندې تيريدونکي کيفيات) مختلف دي، کله د کپړے د بوټو (يعني ډيزائن) په وجه د خُشُوع و خُضُوع کميدلو انديښنه (يعني ويره) وي او کله په ميدانِ جِهاد کښې د تُورو په سوري کښې

نمونځ کوي او په خُشُوع کښې ئې هيڅ فرق نه راځي، کله د بَشَرِيَّت ظُهُور وي او کله د نُورانِيَّت نظارې وي. (مِرآةُالمناجيح ج١ص٤٦٦)

## ډيزائن والا لباس کښې نمونځ جائز دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې نه دې خوک دا مطلب نه اخلي چې ګنې په رنګينو يا ډيزائن والا جامو کښې نمونځ کول ناجائزه دي! مسئله دا ده چې که د جامو ډيزائن وي يا په جيب کښې څه وزندار څيز وي يا هر داسې څيز چې هغه د نمانځه په خُشُوع کښې رُکاوټ اچوي د هغې نه بچ کيدل بهتر او د ثواب کار دے.

## نوي نعلَينِ شَرِيفَين

حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم يو ځل نوي نَعلَينِ شَرِيفَين يعني مبارک پيزار په ښپو کړل، هغه يې خوښ شولو نو سَجدۂ شُکر ئې وکړله او اِرشاد ئې وفرمائيلو: ما د خپل **رب** په وړاندې عاجزي وکړه چې هغه په ما غضَب ناک نه شي. بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم بهر تشريف يوړلو او د ټولو نه مخکښې چې يې کوم سائل (يعني سوالګر) وليدو نو هغه ته ئې هغه نَعلَينِ شَرِيفَين عطا کړل. بيا ئې **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اِرشاد وفرمائيلو: "زما د پاره د زړې نرمې څرمنې نَعلَين (يعني پيزار) واخله." بيا ئې هغه په ښپو کړل.
(اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج١ ص٥٠٩)

## د سرو زرو ګوتمه [ګوتۍ]

د سرو د پاره د سرو زَرو د حرام کيدلو نه مخکښې د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په لاس مبارک کښې د سرو زرو يوه ګوتمه وه، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په نُوراني مِنبر باندې تشريف

فرما وو چې ګوتمه ئې لرې کړه او اِرشاد ئې وفرمائيلو: ”دې زه مشغوله کړم، زما يو نظر د دې په طرف وو او يو نظر ستاسو (يعني د حاضرينو) په طرف.“ (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص۵۰۹)

## د سرو ګوتمه ئې غوزاره کړه (حکايت)

زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو کس په لاس کښې د سرو زرو ګوتمه وليدله نو هغه ئې [ترينه] اُوويستله او غوزاره ئې کړه او دا ئې وفرمائيل چې ”آيا څوک په خپل لاس کښې سکروټه ږدي!“ چې کله حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) تشريف يوړلو، چا هغوئي ته اُووئيل: خپله ګوتمه دې را واخله، او په څه کار ئې راوله. هغوئي اُووئيل: قَسَم په خُدائے! زه به هغه کله هم نه اخلم، چې رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه غوزاره کړه. (مُسلِم ص۸۹۱ حديث۵۴۷۲)

ہر صحابیِ نبی جنتی جنتی　　　سب صحابیات بھی جنتی جنتی

هر صحابـيِ نبي جَنَّتي جَنَّتي　　　ټولو صحابِياتې هُم جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب ! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مرغۍ د مَحبَّت وَبال (حِکايت)

يو عابِد (يعني عبادت ګُزار بنده) په يو ځنګل کښې د اُږدې مودے پورې د الله رَبُّ الْعِزَّت عبادت وکړو. هغه يو ځل يوه مرغۍ په يوه ونه کښې په خپله جاله کښې په چغيدلو وليدله نو په زړه کښې ئې اُووئيل: ښومره ښه به وي چې زه د عبادت د پاره دې وَنې ته نزدې ځائے جوړ کړم چې د دې مرغۍ د آواز نه اُنس يعني مِينه [يعني خوند] هُم حاصلووم. بيا هغه هُم هغسې وکړل، نو الله پاک د هغه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې وحي را وليږله: فلانکي عابِد (يعني عبادت ګُزار) ته ووايه : ”ته مخلوق سره

مانُوس شوې (یعني مینه دې ورسره حاصله کړه) ما ستا درجه داسې کمه کړه چې اوس به په یو عمل هُم ته هغه حاصله نه کړے شې.“ (اِحْیَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج ٥ ص ١٢١)

## مرغۍ ساتل څنګه دي؟

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! مرغۍ وغیره ساتل جائز دي. خو په دې کارونو کښې داسې مشغولِیَت مُناسِب نه دے چې هغه د نمونځونو په **خُشُوع** او د نورو عباداتو په تَوجُّه کښې رُکاوټ جوړ شي. او دا ضروري ده چې دانے او اوبه دومره کثرت سره ورکوئ چې په هیڅ طریقه هُم ستاسو په وجه هغوئي ته د لوږې او تندې تکلیف پیښ نه شي. اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه لیکي: ”(ښاروي [او مرغۍ] ته دې) په ورځ کښې اَویا (70) ځله (یعني ډیر زیات ځله دانے [ګیا] او) اوبه ښائي. ګني وږي او تږي ساتل سخته ګناه ده.“ (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج ٢٤، ص ٦٤٤) په څناور باندې د هیڅ قِسمه ظلم نه ځان ساتل ضروري دي ځکه چې په څناور باندې ظُلم کول په مسلمان باندې ظُلم کولو نه هم غټه ګناه ده. مسلمان مُقَدَّمه وغیره درج کولے شي، مظلوم څناور عاجزه به چا ته فریاد وکړي! دا یاد ساتئ چې د مظلوم څناور ښیرې قبلیږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## صحابي باغ صَدَقه کړو (حکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو طَلحه انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپل باغ کښې **نمونځ** کولو، ناڅاپه یوه د خړ رنګ کونتره والوَتله او د بهر وتلو لاره لټولو د پاره اخوا دیخوا تاویدله، هغوئي ته دې

نظارې خوند ورکړو او د لږ ساعت د پاره ئې هغې ته کتل، بيا چې کله د **نمانځه** په طرف مُتَوَجِّه شولو نو ترينه هير شولو چې څو رکعتونه وشو! هغوئې وفرمائيل: زما مال (يعني باغ) زه په ازميښت کښې واچولم! چنانچه د رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شولو او د دې واقعے بيانولو نه پس ئې عرض وکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اوس هغه باغ صَدَقه دے، چرته ئې چې غواړئ صَدَقه ئې کړئ. (مؤطا امام مالِک ج۱ ص۱۰۷ حديث ۲۲۵)

## تابِعي باغ صَدَقه کړلو (حکايت)

يو تابِعي بُزُرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپل د کجورو باغ کښې نمونځ ادا کړو، د کجورو وَنې د ميوو (د کثرت) په وجه راټِيټې شوې وې، په هغې ئې چې نظر پريوتلو نو خوند ئې ورکړو او ترينه هير شو چې څو رکعته ئې وکړل! هغوئې دا واقعه د اَمِيرُ الْمُؤْمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ په خدمت کښې بيان کړه او عرض ئې وکړو: اوس هغه باغ صَدَقه دے هغه د **اللّٰه** پاک په لار کښې خرچ کړئ. چنانچه سَيِّدُنا عُثمانِ غَني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه په پنځوس زره خرڅ کړلو. (اِحْيَاءُ الْعُلُوم (اُردو) ج۱ ص۵۱۰)

## د دوست د خفه کيدلو ويره خو...

اے د **جَنَّت طلبګارو!** تاسو وليده! د صحابي رَسُول او تابِعِي بُزُرګ د نمانځه په **خُشُوع** کښې چې د هغوئې باغونه رُکاوټ جوړ شو نو هغه ئې د **اللّٰه** په لار کښې خيرات کړل! سُبْحٰنَ الله! زمونږه بُزُرګانِ دِينو د نمانځه سره څومره زبردست مَحَبَّت لرلو، او آه! نن زمونږه دا حال دے چې اکثرو خلقو **نمونځ** بالکل هير کړے دے! د اذان په ذريعه پينځه وخته نمانځه ته رابللے کيږي خو هډو احساس نه کوي! که چا ته د

ملک صدر یا یو وزیر دعوت نامه راولیږي نو هغه د خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائیږي، خلقو ته د هغه دعوت ډیره ډیره تذکره کوي چې په فلانکي تاریخ به زه د فلانکي وزیر دعوت کښې شریک کیږم. افسوس! د دُنیوي افسر دعوت باندې خو فخر کوي خو چې د **نمانځه** دعوت ورکوونکے (یعني مُـؤَذِّن) ئې دربارِ اِلٰهي ته د حاضرئ د پاره جُمات ته غواړي نو د هغې هیڅ پرواه نه کوي. که څوک عزیز یا دوست ورته د واده [یا بلې ښادئ] دعوت ورکړي نو که زړه ئې نه غواړي خو بیا هُم د هغه دعوت قبلوي ځکه چې بعضې وخت د دې خبرې ویره وي چې که دعوت مې قبول نه کړو نو هغه خفه نه شي! خو آیا تاسو کله دا سوچ کړے دے چې که د مُـؤَذِّن رابلل: حَيَّ عَلَى الصَّلَاة، یعني "راشئ د **نمانځه** په طرف!" د اوریدلو باوجود مو که د **نمانځه** دعوت قبول نه کړو نو پاک پروردګار به ناراضه شي! یاد ساتئ۔

پڑھتے ہیں جو نماز وہ جنت کو پائیں گے
جو بے نماز ہیں وہ جہنم میں جائیں گے

کوي چې څوک نمونځونه نو جَنَّت ته به لاړ شي
څوک نه کړي چې نمونځونه نو دوزخ ته به لاړ شي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خُشُوع والا نمونځ غم لرې کوي

د دعوتِ اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه د 103 صفحو کتاب "راهِ علم" [اُردو] صفحه نمبر 87 کښې دي: د طالِبِ عِلم د پاره مناسب نه دي چې هغه د دُنیاوِي اُمُورو (یعني

دُنياوي مُعامَلاتو) په باره کښې فِکر و غم وکړي ځکه چې د دُنياوي اُمُورو فِکر کول سراسر نُقصان دے او د هغې هيڅ فائده نشته ځکه چې د دُنيا فِکر د زړه د تور والي مُوجِب (يعني سبب) وي، او فِکرِ آخرت د نُورِ قَلب [يعني د زړه روښانه کولو] باعث وي او د هغه نُور اثر په **نمانځه** کښې ظاهريږي، (ولې) چې د دُنيا غم هغه د خير (يعني ښيګړې د کارونو) نه منع کوي او د آخرت فِکر هغه د خير کارونو طرف ته راپاروي. دا هُم ياد ساتئ چې **نمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره ادا کول او تَحصِيلِ عِلمِ دِين** (يعني عِلمِ دِين حاصلولو) **کښې مشغول اوسيدل فِکر و غم لرې کوي.** (راهِ عِلم)

غمِ روزگار میں تو مرے اشک بہ رہے ہیں　　　ترا غم اگر رلا تا تو کچھ اور بات ہیں

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۳۸٤)

د روزګار په غم کښې اوښکې مې بهيږي
څه به ښه وے چې ژړل مې ستا په غم کښې

## په روزۍ کښې د بَرَکت مضبوطه ذريعه

د هُم دي ''راهِ عِلم'' په صفحه نمبر 92 کښې دي: په رِزق کښې د وُسعت قوي ذريعه يعني په روزۍ کښې د بَرَکت مضبوطه ذريعه دا ده چې انسان نمونځ په **خُشُوع و خُضُوع** سره او د تَعدِيلِ ارکان (يعني د نمانځه ارکان په ورو ورو د ادا کولو) لحاظ ساتلو او د ټولو واجِباتو او سُنَّتو او آدابو پوره رِعايت ساتلو سره ادا کړي. (راهِ عِلم)

## د اُوږد عُمر حاصلولو لس اسباب

هغه خيزونه چې په عُمر کښې د اضافې سبب جوړيږي هغه دا دي: ﴿۱﴾ نيکي کول ﴿۲﴾ مسلمانانو ته تکليف نه ورکول ﴿۳﴾ د مشرانو احترام کول ﴿٤﴾ صِلهٔ

رِحمي (يعني خپلوانو سره ښه سُلوک) کول ﴿۵﴾ هره ورځ سحر او ماښام دا كِلِمات درې درې ځله لوستل: سُبْحٰنَ اللهِ مِلْءَ الْمِيْزَانِ وَمُنْتَهَى الْعِلْمِ وَمَبْلَغَ الرِّضَا وَزِنَةَ الْعَرْشِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ مِلْءَ الْمِيْزَانِ وَ مُنْتَهَى الْعِلْمِ وَمَبْلَغَ الرِّضَا وَزِنَةَ الْعَرْشِ ﴿۶﴾ بې ضرورته د شنو ونو پريک کولو نه ځان ساتل ﴿۷﴾ په پوره طريقه د سُنَن و آداب لحاظ ساتلو سره اودس کول ﴿۸﴾ نمونځ په خُشُوع و خُضُوع سره ادا کول ﴿۹﴾ په يو اِحرام کښې حج و عُمره ادا کول يعني حَجِ قِران کول ﴿۱۰﴾ د خپل صِحَت خيال ساتل. دا ټولې خبرې په عُمر کښې د زياتوالي سبب جوړيږي. (راهِ علم ص ۹۵ بتغير قليل)

## بنده نه رکعتونه ولې هيريږي

د غيبو خبرې بيانوونکي زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: ”چې کله اذان کيږي نو شيطان شا تاؤ کړے په منډه اوتښتي او هوا ترينه خارجيږي د پاره د دې چې اذان وا نه اوريدے شي، د اذان نه پس بيا راشي. او چې کله اِقامت کيږي نو بيا په منډه اوتښتي، د اِقامت نه پس راشي او نمونځ کوونکي ته وسوسه ورکول شروع کړي او د هغه هيرو شوو خبرو په باره کښې [هغه ته] وائي: فلانکۍ خبره ياده کړه، فلانکۍ خبره ياده کړه تر دې چې نمونځ کوونکي ته ياد پاتې نه شي چې هغه څو رکعاته کړي دي؟“ (بُخاری ج ۱ ص ۲۲۲ حديث ۶۰۸)

## اذان کښې د شيطان لرې کولو تاثِير دے

حَكِيمُ الأُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: دلته د شيطان د تښتيدلو ظاهري معنیٰ مُراد ده او په اذان کښې د شيطان د دفع کولو

تاثير دے، په دې وجه د طاعُون په خوريدلو باندې د اذانونو کولو وئيلے کيږي ځکه چې دا وَبا د پيريانو د اثر په وجه وي. د ماشوم په غوږ کښې اذان کوي ځکه چې د هغه د پيدائش په وخت کښې شيطان موجود وي چې د هغه په وهلو ماشوم ژاړي. د [مړي] خخولو نه پس اذان کوي ځکه چې هغه د مړي د امتحان او د شيطان له طرف د تيريستلو وخت وي، د دې (يعني د اذان) په بَرَکت به شيطان اوتښتي، او د مړي زړه ته به سکون حاصل شي، په نوي کور کښې به ئې زړه اولګي، د نَکيرين (يعني مُنکر نَکير) د سوالاتو جوابات به ورياد شي. (مِراٰةُ المناجيح ج۱ ص ٤٠٩) (د قبر خوا ته د اذان کولو مُتَعَلِّق د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره "فتاوٰی رَضَوِيَّه" (مُخَرَّجَه) جِلد 5 کښې د موجودې رسالے "اِيۡذَانُ الۡاَجۡرِفِيۡ اَذَانِ الۡقَبۡرِ" مطالَعه وکړئ)

## نمانځه کښې هيرې شوې خبرې راياديږي

**حضرت** مُفتي احمد يار خان صاحِب څه مخکښې نور فرمائي: تجربه ده چې په نمانځه کښې [بنده ته] هغه خبرې ورياديږي کومې چې ورته د نمانځه نه بهر يادې نه وي. د دې نه معلومه شوه چې **الله** پاک شيطان ته د انسانانو په زړونو د تَصَرُّف کولو قدرت ورکړے دے د انسانانو د ازميښت د پاره، که هر څومره کوشش وکړے شي خو د دې وسوسو نه کُلِّي (يعني مکمل طور) نجات نه حاصليږي. پکار ده چې د وسوسو پرواه اونکړے شي، نمونځ دې جاري ساتي، [يعني لکه] د ماشانو د وجهې دې طعام نه پريږدي. (مِراٰةُ المناجيح ج۱ ص ٤١٠)

## شيطان ورته د خزانې دَرَک [يعني پته] اوښودله (حکايت)

يو کس مال خخ کړو او [ځائے ئې] ترينه هير شو او د حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت کښې حاضر شو، هغوئي ورته وفرمائيل: تړوله شپه نفل نمونځ

وکړه نو درياده به شي، هغه کس نمونځ کول شروع کړو، بس يو څو رکعاته ئې چې وکړل نو ورياد شو (او هغه نفلونه کول پريښودل) بيا د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو او دا واقعه ئې ورته بيان کړه. هغوئي ورته وفرمائيل چې ما ته معلومه وه چې شيطان به تا ټوله شپه نمانځه ته نه پريږدي او تا ته به ستا مال درياد کړي چې نمونځ کول پريږدې. (الخيراتُ الحسان ص٧١ مُلَخَّصاً)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د دې حِکايت نه دا ظاهريږي چې د حضرتِ سَيِّدُنا امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د حُکم مطابق هغه کس د رضائے اِلٰهی د پاره **خُشُوع و خُضُوع** سره نفلونه وکړل او د هغه کار سم شو. دا ياد ساتئ! چې کله هُم د څه دُنيوي کار د پاره څه وظيفه کوئ نو په هغې کښې د ثواب نِيَّت هُم کول پکار دي، مَثَلًا په روزئ کښې بَرَکت د پاره، بيمارئ نه د شِفا [حاصلولو] د پاره، د قرض د ادائيګئ د پاره، د اولاد کيدلو يا د رشتے ملاويدلو وغيره د پاره چې د دعوتِ اسلامي په قافِله کښې سفر کوئ يا څه وِرد او وظِيفه کوئ نو د **اللّٰه** پاک د رضا حاصلولو د پاره نِيَّت ضرور کوئ، که **اللّٰه** پاک ته منظوره وه نو کار به مو هُم وشي. هُم دغسې **صلٰوةُالْحاجت** وغيره ادا کولو کښې هُم د ثواب نِيَّت کول پکار دي.

## که د رکعتونو شمير ترينه هير شي نو څه وکړي

"**بَهارِ شرِيعت**" کښې دي: ❖ که د چا د رکعتونو په شمير کښې شک شي، مَثَلًا چې درې شوي دي که څلور او د بُلُوغ (يعني بالِغ کيدو) نه پس ئې دا ورومبئ واقعه وي نو په سلام ګرځولو يا په مُنافِيِ صلٰوة (يعني د نمانځه خلاف کار) کولو دې ئې مات کړي يا دې ئې د غالِب ګُمان بمُوجِب (يعني مطابق) ادا کړي خو په هر صورت کښې

دې دا نمونځ د (نوي) سر نه وکړي. **مَحض** [يعني صرف] د ماتولو نِيَّت کافي نه دے (يعني د نمانځه ماتولو عمل به کوي) او که دا شک وړومبے ځل نه وي بلکه د دې نه **مخکښې** هم شوے وي نو که غالب ګمان ئې يو طرف ته وي نو په هغې دې عمل وکړي ګنې د کم طرف دې اختيار کړي يعني که په درې او څلور کښې شک وي نو درې دې قرار کړي، که دوه او درې کښې ئې شک وي نو دوه، **وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاس** (يعني او هُم دغسې) په دريم او څلورم دواړو دې قَعده وکړي ځکه چې **اِحتِمال** دے (يعني امکان دے) چې دريم رکعت څلورم رکعت وي او په څلورم کښې دې د قَعدے نه پس **سَجْدۂ سَهوْ** وکړي او سلام دې اوګرځوي او د ګُمانِ غالِب په صورت کښې **سَجْدۂ سَهوْ** نشته خو که په سوچ کولو کښې ئې په قدر د يو رُکن (يعني د درې ځله سُبْحٰنَ الله وئيلو په مِقدار) وقفه کړې وي نو **سَجْدۂ سَهوْ** واجِب شوه ❖ که د نمانځه پوره کيدو نه پس ئې شک پيدا شي نو د هغې هيڅ اعتبار نشته او که د **نمانځه** نه پس ئې يقين وي چې کوم فرض رانه پاتې شوے دے خو په هغې کښې ئې شک دے چې هغه څه دے [يعني کوم فرض دے] نو بيا کول فرض دي. (بهارِشريعت ج۱ ص ۷۱۸)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب ! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هغه به د انټرنيټ غلط استعمال کولو

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د اودس، غُسل او نمانځه د مسائلو زده کولو جذبه حاصلولو د پاره، په خپل زړه کښې خوفِ خُدا زياتولو د پاره، د ګناهونو نه ځان خلاصولو او د جَنَّت په لاره د روانيدلو ذِهن جوړولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول دِيني تَحريک "دعوتِ اسلامي" دِيني ماحول کښې شامل اوسئ. د ترغيب د پاره يو **مَدَنـي**

**سپرلے** واورئ: چنانچه د کراچئ د علاقے اورنګي ټاؤن اوسيدونکے يو اسلامي وروړ به شپه او ورځ په ګناهونو کښې اخته اوسيدلو، په اسنوکر، ډبُّو، کرکټ وغيره کښې به ئې جواري کوله، بدو دوستانو سره به ئې په شريکه فلمونه او ډرامے کتلې او په ذاتي کمپيوټر به ئې شرم ناک فِلمونه کتل. د دې بيان د وخت نه زيات و کم د څلورو پينځؤ کالو خبره ده چې يو ځل ئې انټرنيټ استعمالولو او مختلف ويب سائټونه ئې بدلول رابدلول چې ناڅاپه يو بيان آن لائن شو. هغه مخکښې کول غوښتل خو د بيان کوونکي انداز د هغه لاس اودرولو او هغه بيان ئې اوريدل شروع کړو، مُبَلِّغ په خوفِ خُدا باندې بيان کولو. د بيان په دوران کښې هغه هُم په خپلو ګناهونو پښيمانه شو او بيان ئې چې واوريدلو نو مُتأَثِّره شو. نور معلومات ئې چې وکړو نو معلومه شوه چې دا بيان د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې په صحرائے مدينه ټول پلازه کراچئ کښې کيدلو. اَلْحَمْدُلِلّٰه هغه [دغه اِجتِماع ته لاړو او] په هُم هغه اِجتِماع کښې د غوثِ پاک پيران پير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُاللّٰهِعَلَيْه مُرِيد جوړ شولو او د ګناهونو نه حفاظت [کښې اوسيدلو] د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې شامل شو، دغسې هغه ته د توبه کولو سعادت نصيب شو. د دې نه علاوه هغه د دعوتِ اسلامي نور بَرَکتونه هُم ليدلي دي مَثَلًا يو ځل ئې خوب وليدو چې مسجِدِ نَبَـوِي شريف کښې مَدرَسةُالْمَدينه (بالغان) لګيدلې ده او اِسلامي وروڼه قرآنِ کريم لوَلي. يو ځل ئې وليدل چې په مسجِدِ نَبَـوِي کښې د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کيږي او يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان کوي. اَلْحَمْدُلِلّٰه په علاقائي سطح ورته د **مَدَني انعاماتو** ذِمَّه داري هُم حاصله شوه او [د دې ليک تر وخته پورې] زيات و کم يوولس مياشتې ورته په اِستِقامت سره هره مياشت مَدَني قَافِله کښې د سفر سعادت هُم نصيب شو.

تراشکر مولادیامدنی ماحول
نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُنيا نه تلونكي په شان نمونځ دې كوي

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چې كله په تاسو كښې څوک نمونځ كوي نو د رخصتيدونكي كس په شان دې د دې گُمان لرلو سره **نمونځ** كوي چې نور به كله هُم دوباره نمونځ اونكړے شي. (جامع صغير ص٥٠ حديث ٧١٦)

## د نمانځه په وخت كښې خپل هر څيز ته اَلوَداع اُووايه!

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعني د هغه كس په شان نمونځ كوه څوک چې خپل نفس رخصت كړي او د خپلو خواهشاتو نه په سفر روان شوے وي او خپل ژوند ته اَلوَداع [يعني رخصت] وائي او د خپل مولٰى په طرف روان وي. (اِحيَاءُ الْعُلُوم ج١ص٢٠٥)


حضرتِ سَيِّدُنا بَكر بِن عبدُالله مُـزَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: كه ته دا غواړې چې ستا نمونځ تا ته فائده دركړي، نو (د نمانځه شروع كولو نه مخكښې) دا اُووايه: شايد چې زه به د دې نمونځ نه پس بيا نمونځ اونكړے شم. (قصر الامل مع موسوعه لِإمام اَبِى الدنيا ج٣ ص٣٢٨ رقم ١٠٤)

## دا زما د ژوند آخري نمونځ دے

د نمانځه په وخت كښې مرګ يادول پكار دي او دا ذهن جوړول پكار دي چې

دا زما د ژوند آخري نمونځ دے. **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "خپل نمانځه کښې مرګ ياد کړئ ځکه چې کله څوک په خپل نمانځه کښې مرګ يادوي نو هغه به ضرور په ښه انداز کښې نمونځ کوي او د هغه کس په شان نمونځ کوئ څوک چې اُمّيد نه لري چې هغه به بل نمونځ ادا کړے شي." (كَنْزُ الْعُمَّال ج ۷ ص ۲۱۲ حديث ۲۰۰۷۵)

## د راروانې هفتې رساله




978-969-722-695-5
01082510

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net